څرخوو . هسدا رنګه د
ملا تیر حرام مغز ساتی .
خپل ځانونه یوځه مخی
ته کا بزه کړی او لاس
مود ملا په تیر باندی
را کا بزی په دې وخت
کې وتلې برخې احساسوی
چې هدوکی یې په حقیقت
کې یوه یوه مهره ده او د
ملا تیر یې جوړ
کړیدی .



پوښتی :

پوښتی او ښځه او کاڼه شوي هډوکی دی . نرمو ښځه په بدن کی څلرویشت (۲۴ جوړی) پوښتی ، دی . دغو پوښتیو قفس جوړ کړی دی چې په منځ کې یې زړه او سږ ي پرانه دي او ساتنه یې کوي .



د لاسو او پښو هډوکي:

لاس له لاندې نیوهډوکو څخه تشکیل شوی دی:

۱- مټ: یو اوږد هډوکی دی چې له اوږې نه تر څنګلې پورې غځیدلی دی.

۲- لیچه: له دوو هډوکو څخه جوړه شوې ده چې د څنګلې له سر څخه تر مڼې وندې پورې ده.

عضلې

عضلې دوه ډوله دي: ارادي او غیر ارادي

الف: **ارادي عضلې:**

داسې عضلې دي چې حرکت یې زموږ په واک کې وي. په خپله خوښه کولای

شوا ارادی عضلو ته حرکت ورکړو. همدا رنګه هغوی تم کولای شو. د مثال په توګه د لاسو، پښو او غاړې عضلې ارادی دی.

ب- غیر ارادی عضلې:

زمونږ په بدن کې نورې عضلې هم شته چې حرکت یې زمونږ په واک کې نه وي. داسې عضلو ته غیر ارادی عضلې ویلی کیږي. زړه، مري او ګیده غیر ارادي عضلې دي.

ددی فصل پوښتنی

۱- کوم شی انسانانو ته پرنور وحیوانانو توفضیلت اوبرتری ورکوی ؟

۲- انسانان کوم کارونه دځان دگټی دپاره کولای شی ؟

۳- کوم کارونه حیوانات کولای شی اوانسان یی نشی کولای ؟

٤- خدای ج، حیوانات دچادگټی اواستفادی - دپاره پیدا کړی دی :

۵- دانسان دبدن د مهمو برخونومونه واخلی ؟

٦- دانسان بدن دځه شی په وسیله پوښل شویدی ؟

۷- د پوتکی وظیفه څه ده ؟
۸- عضلی څه وظیفه لری ؟
۹- عضلی څو ډوله دی نومونه ئی واخلی ؟

نوی کلمی

۱- ذکاوت : پوهه . ۲- فضیلت :- ښه والی .
۳- اسکلیټ :- په عمومی ډول د وجود ټول هډوکو ته اسکلیټ وایی .
۴- عضله : د وجود د غوښی برخی چه هډوکی پوښلی دی د عضلی په نامه یادیږی .
۵- شوکی نخاع :- سپین رنګه ماده ده چه د مغز دتیر په منځ کښی موقعیت لری .

۶- ارادی عضله :- هغه عضله ده چه شعور د ل ئی زمونږ په واک کی وی .
۷- غیر ارادی عضله : هغه عضله ده چه شعور د ل ئی زمونږ په واک نه وی .

۲ـ حیوانات (ژوی)

تاسی پوهیږی چه پسونه، غواوی، چرګان، کوترې، نریان، میاسی ټول ژوندي موجودات اود خدای ﷻ مخلوقات دی چه د حیواناتو په نامه یادیږی. خدای ﷻ ټول حیوانات دانسانانو د ګټې او استفادې

---

(۱) ترجمه: هغه خدای دی چه یې پیدا کړه تاسو ته هرڅه چه په ځمکه کښی دی. دویم رکوع سورة البقره آیهٔ ۲۹

دپاره پیدا کړی دي . د پاک خدای په قدرت
سره ځینی حیوانات په هوا الوزی لکه هیلی
چوغلی ، کوتری ، کارګه او ځینی په اوبو کښی لامبی
لکه چنګښی ، کبان او داسی نور .
ستاسی په چاپیریال کښی را ښ را نه حیوانات
پیدا کیږی . د سنه پیر . ند لود پاره یی په لاندی
ډول په لوستلو پیل کوو .

کورنی او وحشی حیوانات

زمونږ په هیواد کی مختلف حیوانات
موندل کیږي . ښایی تاسو په کلوکی چه کښتونه
، ځنګلونه او ویالی لری ځوند کوی او ډول -

ډول حیوانات به مولیدلی وي. ښایی ستاسو
ـــ داستوګنې په ځای کې ډول ډول حیوانات
ـــ وي چه ځینې دهغوځخه موتراوسه
نه وي لیدلی. ډیرلوی حیوانات لکه آس
غـــوائی، اوښ، خر، پسه، وزه، سپی او
پشی پیژنی چه ستاسو په مځکویا کورونکی
ژوند کوي. داکورنی حیوانات دي.

په هغه ځای کې چه تاسو ژوند
کوی ډول ډول کورنی حیوانات شته.
له دي حیوانا تو څخه چه شکلونه یی
دلته وینی کوم ډول ئ پیژنی؟



پرته له دغو حیوانا نو څخه مرغان، حشرات
ماران، چنګښی اولور کوچنی حیوانات
هم شته چه سنایی ځینی له هغو څخه ستاسی کور ویا سبزونځیو ته نزدې پیدا شی.

لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ

خامخا په تحقیق پیدا کړی مونږ انسان (بنی آدم) په ډیر ښه اعتدال سره سورة التین آیة ۴ جز ۳۰

لمړی فصل

څوندی موجودات

۱- انسان

لوی خدائی (ج) انسان ډیو عقل لرونکی موجود په لوګه پیدا کړی دی.

مرغان، حشرات، ماران، چنگښی، لیوه، گیدړه، ږي، هوسی اوداسی نور وحشی حیوانات دي.

آیا تاسو دکوم بل وحشی حیوان نوم اخستلای شی؟



د حیواناتو د ساتنې اهمیت

مونږ د غوا، پسه او وزې له غوښو
شیدو، وړیو، پوستکو او نورو څخه ډیره
ګټه اخلو نو د غه حیوانات نر مونږ د هیواد
په هره برخه کې روزل کیږي.
د ځینو حیواناتو له پوستکو څخه ډیره ښه
څرمن لاس ته راځي. نر مونږ د هیواد د
قره قل پوستکي په نړۍ کې ډیر شهرت
لري.
همدا رنګه د پسو له وړیو څخه غالۍ
تغارونو رسنګلي توکران جوړیږي.
برسیره پردې د کبانو له غوښو او مرغانو له

هګیوا وغوښتل خه هم ګټه اخلو.

اوس، خرا وآس باران وهي. خرنګه چه ډیر حیوانات زموږ په ژوند کې اهمیت لري نو باید په ساتنه کې یې ډیر کوښښ وکړو او بې سببه یې ونه وژنو. که دهغو ګټه وروو وحشي حیوانا تو لکه هوسۍ او داسې نورو په ساتنه کې کوښښ و نه کړو وروو به ټول له منځه ولاړ شي.

نوی کلمې

۱- وحشي حیوانات - هغه حیوانات دي چې په دښتو نو کښې په آزاد ډول ژوند کوي لکه زمری، هوسی او نور.

۲- اهلی یا کورنی حیوانات - هغه حیوانات
دی چه د انسانانو سره یوځای ژوند
کوي لکه پسه، غوا، اوښ او نور .
۳- حشرات - ژوندی موجودات لکه مچان،
مانبی، سپږی، لمم اوداسی نور د حشراتو
په نامه یادیږی .

پوښتنې

۱ـ هغه حیوانات چه الوزی نومونه یی واخلی؟

۲ـ ځینی حیوانات چه لامبو وهی نومونه یی واخلی؟

۳ـ هغه حیوانات چه ستاسو په شاوخوا کښی پیدا کیږی نوم یی واخلی او څه ګټه یی انسانانو ته رسیږی؟

٤ـ کورنی حیوانات کوم دول حیوانات دی دمثال په توګه ئی واضح کړی.

۵ـ وحشی حیوانات څه دول حیوانات دی دمثال سره ئی واضح کړی.

٦ـ موږ د حیواناتو څخه څه ګټه اخلو بیان یی کړی؟

۳۔ نباتات

دغمو او جوارو بوټی. ټکلان اوونی چه دغرو په لمنو، کښتونو او دشتو کښې لیدل کیږی. لکه حیوانات د خدای تعالیٰ څرونده مخلوقات دي چه ټول د نباتاتو په نامه یادیږی.

نباتات ډیرډول ونه لری. ځینی نباتات ډیر لوی او ځینی ډیر واړه دی. ښایی تاسو ځینی لوئی ونی لکه چنار، توت، وله، کاج

لیدلی وي چه ښایی دځینو لوړوالی تر
(۲۰) مترو زیات وي. دنړۍ په نورو
ځایو کی داسی ونی هم شته چه لوړوالی
یی تر دې ونو هم زیات وی.

ځینی نباتات ډیر کوچنی دي. د
مثال په توګه بکتریا یو ډیر کوچنی نبات
دی چه یوازی د میکرسکوپ په واسطه
لیدل کیږی او ډیر امراض مینځ ته راوړی.

د نباتاتو جوړښت:

ریاتره نباتات ریښې، ساقه، پانې
اوګلان لري. چه په لاندې دول سره څیړل کیږي.

ریښه:

ریښه د نباتاتو هغه برخه ده چه
عموماً په مځکه کښې ننوزي. ریښه نباتات د مځکې
پرمخ تینګ ساتي. همدا رنګه ریښه اوبه
اومعدني مواد چه نبات ته لازم دي له مځکې څخه
جذبوي.

ساقه :

ساقه د نباتو یوه مهمه برخه ده . چه د نباتو څانګی اوپانی له ریښو سره نښلوي. ساقه یو نل دی چه اوبه او غذایی مواد له ریښو څخه پانو ته اوله پانو څخه ریښو ته رسوي . کله چه ریښې اوبه او معدني مواد له مځکی څخه جذب کړي د ساقې په واسطه پانو ته رسول کیږي . پانې له د غو معدنی مواد و او اوبو څخه غذا جوړوي ساقه او ریښو ته یې رسوي .

پانی :

پانی د نباتاتو هغه برخی دی چه د نباتاتو

غذا جوړوي . يانې دنبات دغذا جوړولو
دفابريکې په نامه سره يادوي. لوند نبات
يانې ديره مهمه وظيفه سرته رسوي .



بنوونکی صاحب! دې دې دنبات بيلې بيلې برخې په
عملي توګه شاګردانو ته وښيی

انسان کولای شی چه لوستل اولیکل زده کړی
اومعلومات حاصل کړی. ځکه نومونه
وایو چه انسان یو داسی موجود دی
چه عقل اوذکاوت لری اوالله ع انسان
په دیرنیک، بنایسته صورت او جوړښت سره
پیدا کړی دی

عقل انسان ته پرنور وحیوانانو تر
فضیلت ورپه برخه کوی. عقل دانسان د
پرمختک سبب گرځی

استاد محترم دی انسان دنورو ژوندی اجسامو سره پرتله اودانسان فضیلت دی
پرنور وحیوانانو باندی توضیح کړی.

گل :



دنبات هغه برخه
ده چه دنبات د پوره
ودی څخه وروسته
مینځ ته راځی. په نتیجه
کښی دهغه څخه میوه
او تخم لاس ته راځی.

دنباتاتو اهمیت اوساتنه

څرنګه چه نباتات انسانانو اوحیواناتو ته
غذا جوړوی نو دیر اهمیت لري.
نباتات دکورونو اوښارو د ښکلتیا سبب دی.

دنباتاتو ریښې خاورې کلکې نیسی اوله
دوې وخته مخنیوي کوی. که نباتات نه
وی باد اوباران دمځکې دمخ خاوره له
ځان سره وړي اومځکه له حاصلخیزې.
څرنګه چه نباتات زمونږ په ژوند کې
دیر اهمیت لري نو دغانګو پرې کول، په
قلموباندې لاس وهل، اودنیالګیو سوړول
بنه کار نه دی. ځکه چه دهغوی دوچیدو
سبب ګرځی.

نوی کلمی :

۱- نباتات : هرشی چه په ځمکه کښی شین کیږی .
لکه ګلان ، بوټی ، ونی او داسی نور .

۲- باکتریا : ذره بینی واړه موجودات دی چه په
ستر ګونه لیدل کیږی .

۳- ریښه : د نبات هغه برخه ده چه په
خاوره کی ننوزی .

٤- ساقه : د نبات هغه برخه ده چه ځانګی
اوپانی له ریښو سره نښلوی .

۵- معدنی مواد : فلزات او دهغوی مرکبات
چه تر ځمکی لاندی یا د ځمکی پر مخ پیدا کیږی
لکه د خورلو مالګه او داسی نور .

پوښتنې:

۱- د څو نباتانو تونوم واخلی چه تاسو ئی پیژنی ؟
۲- د لویو نباتانو تونومونه واخلی ؟
۳- د نباتاتو مهمی برخی کومی دی ؟
٤- ریښه څه وظیفه لری ؟
٥- ساقه د نبات کومی برخی ته ویل کیږی ؟
٦- د ساقی وظیفه څه ده ؟
۷- گل په یو نبات کښی څه وظیفه لری ؟
۸- ساقه په یوه نبات کښی څه وظیفه لری ؟
۹- په قلموا و څانگولاس وهل څه تاوان لری ؟
۱۰- نباتات انسانانو ته څه گټه لری ؟

دوهم فصل

غیر ذیروح موجودات

۲۱ سورهٔ ۱۶ آیه ①

لمړی: محکه:

محکه له دریو برخو څخه جوړ شوی ده. لومړی برخه یی له جامد و شیانو څخه جوړ شوی ده لکه ډبری، لوښی، مالګه، لاجورد او نور معدنی شیان. دوهمه برخه یی له مایعاتو څخه جوړ شوی ده لکه پترول، اوبه او نور. دریمه برخه یی له غازاتو څخه جوړ شوی ده لکه آکسیجن، نایتروجن او نور.

① پیدا کړی موندی آسمان او محکه او هغه شیان چه پکښی دی بی ګټی.

ژوندونکو رونه او ښوونځی د محکمی پرجامه
برخه باندې جوړ شوي دي.

دوهم: هوا:

هوا ژوندیو اوزیاتره حیوانا تو د ژوند
دپاره ضروري ده. هوا ژوندیو په شاوخوا
کی هرځای شته. هوا چه موږ یې تنفس
کوو له غازونو، گرد، بخار، اوبو، دود او
نورو شیانو څخه تشکیل شوي ده.

په هوا کښې ډیر غازونه موجود دي له
هغو څخه یوآکسیجن دی چه حیوانات او
نباتات ورته اړدی. نور مهم غازونه لکه
نایتروجن اوکاربن ډای اکسایډ هم په هوا

کی موجود دي مونږ زیاتره له دې غاړو لږ څخه لید لای نشو. دهوا تقریباً پنځمه برخه آکسیجن او ۱/۵ برخه یې نایتروجن دی.

دریم: اوبه:

خدای ج مځکه اوهغه ټول-
شیان چه په کښې شته زمونږ دګټې او استفادې دپاره یې پیدا کړي دي.
ویالی، رودونه، حوضونه، خلیجونه، چینې اوبحرونه د مځکې مایع برخه ده. مونږ د مځکې دمخ له اوبو څخه داوبو لو، لامبو وهلو، کبانو نیولو اونورو مهمو کارونو لپاره کار اخلو. اوبه دټول انسانانو اوبناتاتو لپاره ډیر ښه نعمت دی.

چه بی له اوبونه به د حیوانا تو او بنا تا تو څرونډ
ممکن نه وای. لومړنۍ باید د پاک خدای
د پیرونعمتونو په مقابل کښې شکر وکړو.

څلورم: شمسی نظام

لمر او ټول اجسام چه پرلمر باندې راګرځي
د شمسی نظام په نامه یادیږي. لمړد
شمسی نظام مرکز دی.

الف: لمر:

یوله نورها وستورو څخه دی چه
په آسمان کی موجود دی.
فکر وکړی چه که یوخوا ر عنم وشمیر وشومره

به ډیروی.

دآسمان دستورو شمیر دیوه خروار غنمو تر دانو ډیر نیات دي لکه چه لمر حرارت او رڼا لري نور ټول ستوري هم حرارت او رڼا لري.

لمر شمسي نظام تر ټولو لوی جسم دی.

لمر حرارت او رڼا یوه لویه منبع ده.

دساینس پوهان په دی عقیده دی چه

لمړ د لګيدونکو اوږو پر تودوغاړو نو يوه کړه ده.
د لمر حرارت او ړانا له دې غاړو نو څخه
پيدا کيږي.

ب: سپوږمی

سپوږمی د مځکې پرشاوخوا باندې
راګرځي. د سپوږمۍ حرکت پر مځکه باندې
تقريباً په څلورو هفتو (۲۹½ ورځو) کې سر
ته رسيږي. تاسې په وار وار د سپوږمۍ
ليدلې ده خو سپوږمۍ د خپل اصلي غټوالی
په آسمان کې ډيره کوچنۍ ښکاري، ځکه چه
له موږ څخه ډيره لیرې ده. په حقيقت کې
سپوږمۍ ډيره لويه ده خو بيا هم لکه مځکه

انسانان دډیرو شیانو له نظره نورو حیواناتو
ته ورته دی .

انسان کولای شی چه د نورو حیواناتو
په شان غذا وخوړی ، حرکت وکړی او
وځغلی . خو خینی کارونه د نورو حیواناتو

دومره لویه نه ده . سپوږمی (۴۸) واړه ترمځکی کوچنی ده .

موږ هیشه د سپوږمی یوه خوا وینو. موږ د سپوږمی هغه خوا وینو چه لمر روښانه کړي وي . د میاشتو په لومړی او وروستیو شپو کی د سپوږمی لږه برخه او د میاشتی په مابین کی د سپوږمی د روښانی برخی ډیره حصه وینو.

په سپوږمی کی دښتونه ، غرونه لوړی او ژورې شته خو اوبه او هوا نه لري. تاسی پوهیږی چه ژوندي شیان اوبو او هوا ته ضرورت لري.



خو څرنګه چې په سپوږمۍ کې اوبه او هوا
لرې شته نو دهغه پر مخ ژوندي شیان وجود نه لري.



ج ـ ستوري :

موږ په داسې شپوکې چه آسمان شين
وي ډير ستورې وينو. ستورې له خپله
ځانه رڼا لري. ستورې هم دلمرپه شان

له خوړا توده غاړه څخه پیدا شوي دي.
دستور ورته ورته له څو ورځو کیلومترو
فاصلې څخه موږ ته را رسیږي.

نوی کلمې

۱- جامد: هغه شیان دی چې کلک دی لکه ډبره، هډوکی، اوسپنه، لرګی او داسې نور.
۲- مایع - هغه شیان دی چې په آسانۍ سره بهیږي لکه اوبه، شیدې او داسې نور.
۳- غاړه - هغه شیانو ته ویل کیږي چې په آسانۍ سره حرکت کولای شي لکه دود او بوبخار او داسې نور.

پوښتنې

۱ـ مخکه د خوږ خونه جوړه شوی ده نوم یې واخلئ؟
۲ـ موږ د مخکې په کومه برخه کښې اوسیږو؟
۳ـ او به څه ګټې لرې لږ یې بیان کړی؟
٤ـ هوا د څه شی څخه عبارت ده مثال په ویلو سره یې واضح کړی؟
۵ـ شمسی نظام تعریف کړی؟
٦ـ تودوخه او رنا څنګه اوله کومه ځایه پیدا کیږی؟
۷ـ مراوسپوږمی انسانانو ته څه ګټه لری واضح یې کړی؟
۸ـ ستوری څه ته وایی په مثال یې واضح کړی؟

دریم فصل

«حرارت او نور»

الف: حرارت:-

حرارت زمونږ په ژوند کې ډیر اهمیت لري.

که چیرې په ژمي کې هوا ډیره یخه وي نباتاتو ته

څه پیښیږي؟ دځمکې په سره هوا کې زیاتره نباتات
وچ شي او پاڼې یې ړنګیږي.

مځکه او هغه شیان چې د مځکې پر
مخ باندې موجود وي دلمر په واسطه تودیږي
کله چې مځکه توده شي، خپله شا وخوا
هم تودوي. دلمر مځکې ځینې برخې ترنورو
برخو ډیرې تودوي. ځینې برخې تل تودې
او ځینې تل سړې وي.

دلمر حرارت اندازه چې دکال په
مختلفو وختونکې د مځکې ومخ ته رسیږي
دیوې منطقې نه تر بلې منطقې پورې توپیر
لري.

موږ د ژوند د پاره حرارت ته ضرورت لرو.

زموږ وجود خپل حرارت او گرمی د هغې غذا نه اخلی چه موږ یې خورو. که زموږ بدن دیر تودوي دا ښیی چه ټبه مرده اونا روغه یو.

که زمونږ شاوخوا هوا ډیره یخه وي نو د بدن
حرارت موږ ږ خارجیږي .

که ډیری جامې واغوندو د بدن حرارت
موږ ږ نه ضایع کیږي او بدن مونږ د پاتی
کیږي .

که وځغلو یا لوبې وکړو بدن مونږ یات
حرارت تولیدوي . ځکه نو ځان تود
احساسوو .

رنا (نور)

فکروکړئ چه که رنا نه وای نو مونږ
څوند به څنګه وای؟

مونږ به هیڅ شی نشوای لیدلای. که
رنا نه وای مونږ به د ډیاند په شان وای.
ځکه نو رنا نو مونږ په څوندکی ډیرا همیت
لري.

رنا مختلف منابع لری چه لاندی ټوګه دی:

غوندی سرته نه شی رسولای.

آیا انسان کولای شی چه دهوسی په شان چابک وخفلی؟

آیا انسان کولای شي چه دکب په شان تراو لولاندی ژوند وکړي؟

آیا انسان کولای شي چه د مارغه په شان والوزي؟



۱- رڼا د سون له موادو څخه:

کله چه شیان سوزي رڼا تولیدوي
مثلاً کله چه لرګی سوځي رڼا تولیدوي.
همدارنګه چه شمع سوځي رڼا تولیدوي.



هغه څراغ چه تورتیل یا د خاورو تیل پکښې سوځي

ړانا تولیدوي . آیا تاسی دکوم بل شی نوم اخیستلای شی چه دسوځیدلو په اثر ړنا او حرارت تولید کړي ؟

۲ـ دبرښنا ړنا :

برښنا هم دنور د تولید د منابعو څخه ګڼل کیږي .

ښایي ځینې له تاسو به خپل کور ونه دبرښنا په واسطه ړوښانه کوی .



ښایي د موټرانو او بایسکلانو څراغونه مو لیدلي وي. ددې لپاره چې څراغونه ړانده نه شي خټه لاس ته راځي.

۲- د لمر او ستوري

ستوري تل ړوښانه وي. خو په هغو شپو



کی چې آسمان شین وي رڼایي موږ ته راښکاري.

له هغه ځایه ستوري له موږ څخه ډیرلیري دي.
نورئ کمزوري دي اوکوچنی ښکاري.
لمر څومره لوی اوروښانه معلومیږي ځکه چه تر ټولو ستورو
موږ ته نږدی ستوری دی.



پوښتنې

۱- حرارت او تودوخه په څرنګه کښې څه اهمیت لري؟

۲- زمونږ د بدن تودوخه له کومه کیږي؟

۳- که زمونږ د بدن تودوخه ډیره لوړه شي څه پیښیږي؟

٤- زمونږ په څرنګه کې څه کټه لري؟

۵- دسون مواد کوم دي نومونه یې واخلي؟

٦- تاسو په کورکښې دسون دکومو موادو څخه کار اخلي؟

۷- تر ټولو مهم شي چه مونږ ته زمونږ اکوی څه شي دی واضح یې کړي؟

۸- هغه شیان چه زمونږ تولید وی نومونه یې واخلي؟

څلورم فصل

روغتیا

دډیرو ړملوله خوړلو څخه
ځان وساتی اوتل کوښښ وکړی چې
دول ډول ښه خواړه وخوړي وجود به
موغښتلی اوقوی شی. څومره چه وجود
غښتلی وی نا ړوغی په آساني سره په
وجود حمله نه شی راوړي برسیره پردی
چې غذائی مواد د انسان
په ړوغتیا کی مهم دي، د ځان، کالیو، کور
اوشاوخوا پاکی اونظافت ساتل هم روغتیا
ته ډیری ګټی ړسوي.

دکولمود مکروبی ناروغیوانتقال :

دیری زیاتی مکروبي ناروغی دځان او محیط چاپیریال، دچتلی اوکثافاتو له امله له یوه انسان نه بل ته خپریږی .

اوهم دا رنګه دناروغ له فاضله موادو اودخولی دناروسره په زرګونو جراثیم، چینجی اودهغو هګی خارجیږی اوچاپیریال کښی خپریږی .

چه په نتیجه کښی دناوړیو ګوتو، کسکروشویوخوړو او اوبو، مچانو اوهوا سره نوروته دغه لاندی ناروغی انتقالوی :-

دکولمود چینجیو مختلف ډولونه .

اسهال اوپیچ

څیړي ، محرقه اوکولرا .
سپي، چرګان اونور کورنۍ حیوانات هم د کلمو
نارو غۍ چینجي اودچینجیو هلګي خپروي .



الف ـ د بدن پاکوالی

سمها رچی له خوبه پاخیږی، ترلمانځه وروسته اودډوډی ترخوړو دمخه لاسونه په صابون او اوبو مینځئ او خپل نوکان هم همیشه پرې کړی.

دګرمۍ په موسم کې هره ورځ ولامبی په سخت کار کې وجود خولی کیږی. د کار ترپای وروسته ځان پری مینځئ.

هره ورځ لمبل د سرد سړې، خارښت اودانو مخنیوی کوی. نا روغان اوماشومان باید هره ورځ ولامبي.

ـ په هغو ځایونو کې چې وینې څښونکی چینجی

زیات وی پښی لوڅی مه ګرځی
اوماشومان هم مه پریږدی چی پښی
لوڅی وګرځی.

خپل غاښونه هره ورځ په اوداسه کی او
دخوړولو وروسته په مسواک سره پاک کړی که
چیری مسواک نلری په ملالګی
اوسوډا هم غاښونه پاکولی شی.

ب: دکوړ پاکوالی:

په کوړ اودماشوم دلوبو په ځای کې سپی
اولوږ څاروی مه پریږدی.

سپی دماشومانو تکت اوبستری ختلو
ته مه پریږدی ځکه چی سپی هم ناروغی

ړ ښتیا داچه انسان دغه کار ړونه سرته نه
شی ړسولای. خو کولای شی موټر جوړ
کړی چه ترهوسی کړندی وی.
انسانان کولای شی کښتی جوړه کړی
چه په بحر کی حرکت وکړي.



خپرولای شی .
که چیری ماشومان یا سپی کور ته نږدې
متیازې وکړی سم دلاسه ئې پاکې کړی .
ماشومانو ته د تې (خاک انداز) استعما-
لول اویاله کور څخه لرې تلل ورزده
کړی .
کالی ، برسنې اونور شیان لمر ته
غورې وی . که په کورکې خسکې وی لوپر
کمتوز ایشیدلی اوبه واچوی اوکالی کمپلی
په هماغه ورځ پریمنځی .
دکور ټول وکړی باید د سپږو نه پاک کړی .
سپږی اوربنې زیاتې ناروغۍ انتقالوی .
سپې ، پیشو اونور څاروی چه وربنې

لری کوړته نه پریږدی.
همدارنګه په هرځای کې لاهې مه توکوي
ځکه لاهې هم ناروغي خپروﻻی شی.
دکوړ ددیوالوسوړی بندکړی چې غمنی
خسک لړم اولوړ شیان پکې پټ نه شی.
کله چه ټوخی یا پرنجی درځی خولی ته
د سمال یالاس ونیسه.

د خوراک اوڅښاک په وخت کې د پاکوالی رعایت کول:-

د څښاک اوبه باید ویشول
شی خصوصاً هغه ماشومانو ته چې د
اسهال، محرقې اوکولرا په ناروغیواخته
دی.

د سیند واوویالو اوبه که څه هم پاکی سنکاری،
ایشول ئی ګټور دي ځکه چه اوبه ناروغی
خپروالای شی.

په خوړو باندی مچان اولوړ حشرات
مه پریږدی د احشرات جراثیم اوناروغی
نقلوی. تر خوړو وروسته دډوډی لوټی،
تولی کړی اود خوړلو
لوښی باید څرګند پریمنځل
شی اوپه هرځای کی
ئی مه پریږدی. چل.
خواړه تل پټ ساتی.
میوی تر خوړو دمخه
ومینځی.

هغه غوښې چې ښې پخې نه وي
مه ئې خوړې ځکه چې اومه غوښه خطرناکې
ناروغۍ منځ ته راوړي.
هغه ماشومان چې پوتکي يې خارښ
کوي، دانې يا بله کومه ساري ناروغۍ ولري بايد
له نورو ماشومانو څخه يې بستره او خوب
کوټه بيله شي.

ملاريا:

ملاريا دوينې يوه مکروبي ناروغي ده چې ساړه
اولړزه ته منځ ته راوړي.
ملاريا د ماشو په واسطه له يوه انسان نه
بل ته سرايت کوي ماشي د ناروغ انسان له

وینی نه د ملاریا مسیکروب) ورځي
اوپه چیچلو سره یې د بل انسان وینې
ته داخلوی.

د ملاریا ناروغي:

د ملاریا حمله په هرو دوو یا درې
ورځو کې پیښیږي او څو ساعته دوام کوی
چې دریو مرحلو لري:

۱- اوله مرحله د سړو په پیل کیږي او سره
شروع کیږي او عموماً سر خوږ هم ورسره
وي. ناروغ له (۱۵) دقیقو نه تر یوه ساعته
پورې لړزیږي.

۲- تر سړو نه وروسته تبه شروع کیږي،
عموماً تبه نې (۴۰) درجې یا زیاته وی.

ناروغ کمزوري او وجودئ سوړوی، اپلتی
وائی او تبه څوساعته دوام کوي.
۳- په پای کې ناروغ خولی کیږی، تبه
یې کیږی او کمزوری احساسوی.

دملاریا تداوی:

لومړی باید ناروغ خپله وینه معاینه
کړی که چیری ملاریا ؤ نو د ملاریا ګولی
دی وخوړی.
که دوینی دکتور مریض نه وی، نو دکلورکوین
ګولی ډاکټر د ډیوو رځو لپاره استعمال کړئ.

نوی کلمی

دمل : دواګانی چه دناجوړ تیا په وخت کې خوړل کیږی .

میکروب : ډیر واړه ژوندی اجسام دی چه په ستر ګونه لیدل کیږی دخدای ج، په امر د لوړو ژوندیو اجسامو په واسطه په مریضی اخته کیږی .

محیط : چاپیریال

آمیب : واړه ژوندی اجسام دی چه په ستر ګونه لیدل کیږی او په ککړو اوبو کښی ډیروی اود مختلفو مرضو سبب ګرځی

حشرات: ژوندی موجودات لکه مچان ماسی، سپږی اوداسی نور د حشراتو په نامه یادیږی.

پوښتنې

۱- دکوموشیانو په خوړلوسره وجود غښتلی اوقوی کیږی؟

۲- میکروبی ناروغی څرنګه له یوه انسان نه بل ته خپریږی؟

۳- دکولمود چینجیو د مختلفو ډولونو نوم واخلی؟

٤- دګرمی په موسم کښی هره وړځ ځان مینځل څه ګټه لری؟

۵- دکالیو اوبرسنی غوړول لږ ته څه ګټه لری؟

٦- د سیند وینزو او د یالونو او بو ایشول ولی گټه لری؟
٧- په خوړو باندی مچان او حشرات نه پریښودل ولی ضرور دی؟
٨- ملاړ یاخه ډول ناروغی ده؟
٩- د ملاړ یا ناجوړتیا څرنگه دیو انسان نه بل انسان ته خپریږی؟
١٠- د ملاړ یا د ناروغی څخه څرنگه ځان ساتی؟

ARIC
B
6.421
TUA
W22 v.1

شیزمه طبع
دچاپ کال سنبله ۱۳۶۸ دچاپ شمیر(۱۰۰۰۰)
دتعلیمی مرکز دنصاب مدیریت

د افغانستان د تعلیمی مرکز د نصاب
اهداف

عمومي هدف:

د ټولو جهادی تنظیمونو د تعلیمی نصاب د انکشاف اداره د یو متوازن او جامع اسلامی بنوونې او روزنې مغز تر اوږه چې د هر ډول باطل پرستی او بدعتونو ضد وي. همدا ډ ډ ډ

د انسان د بدن جوړښت

د انسان د بدن عمده برخې سر، تنه
لاسونه او پښې دي. تولې دغه برخې د پوټکي
په واسطه پوښل شوېدي.

پوټکی:

پوټکی د انسان تول بدن پوښلی
دی. پوټکی زموږ بدن ساتی. پوټکی
زموږ بدن له سړو، تودوخې او د لمر
د وړانګو څخه ساتي. د بدن پوټکی د ډیر
واړه سوري لري چې خولې وېنې
را وزي. څرنګه چې د بدن پوټکی
زیاتې دندې لري نو د ساتني او پاکی

په برخه کې يې کوښښ وکړو.

اسکليت:



هډوکونه موږ د بدن مهمې برخې حرکت کې مرسته کوي. د بدن ټول هډوکي په مجموعي ډول د اسکليت په نامه يادېږي. په بدن کې ۲۰۶ هډوکي شته. د غه هډوکي يو له بله سره د اسې اړيکي (ارتباط) لري چې د هغوی په

- واسطه ترموږ بدن په آسانۍ حرکت
کولای شي.
دانسان د بدن هډوکی په عمومی ډول
په څلورو برخو ویشلی شو:

کوپړي یا جمجمه:

جمجمه د سر او مخ هډوکو څخه جوړه
شوی ده. د جمجمې یوه برخه د سرله کاسې
څخه عبارت ده چې په هغې کې مغزه وجود
لري. نږدې د سر په کاسه کې شامله ده
همدارنګه په جمجمه کې د سر پر کاسې

سر بیره دمخ، پوزې او
زنې هډوکی شامل دی.



شمزی (د ملاتیر)

شمزی له ۳۲ مهروخخه داسی منځ
ته راغلی چه یوه په بله باندی پرته ده . د
ملاتیر په منځ کی سپین رنګه ماده شته
چه د حرام مغز (شوکې نخاع) په نامه یادیږي
د ملاتیر په مرسته کولای شو
چې خپل بدن هری خوا ته کوږ کړو اوویني

غزا شریعت ، او د حنفي مذهب ضامن او ساتندوی وي . او د مجاهدینو او مسلمانو مهاجرینو د ټولو اقشارو د تائید وړ وی .

نوید پ اساس د بنووني او روزنې دغه آهنګ عالي شوری چې د ټولو محترمو مبرانو د تائید له مخې تاسیس شوه . چې د بنووني او روزنې دغه آهنګ عالي شوری دا افغانستان د تعلیمي مرکزادارې تاسیس کړه . چې نومورې مرکز په څوارلسو شعبو ټولګه : د تعلیمي نصاب مدیریت ، د نظارت او تدریسي مدیریت ، د پلان او خارجي ارتباط مدیریت ، د اجرائي مدیریت ، مالي مدیریت ، د بنووني او روزنې مدیریت ، د سواد او زده کړې مدیریت شامل دي .

د دې مرکز مسئولین د ټولو تنظیمونو د بنووني او روزنې د متخصصینو او مجربو اشخاصو د چې ټول غړي یې په مجدانه او متعهدانه ډول سره د اسلامي بنووني او روزنې د تحکیم او تعلیمي نصاب د توحید د پاره کار کوي .

پس له مخته او مشورې نه د تعلیمي نصاب متخصصین د درسي مضامینو د کتابونو د تهیې په باب کې د يې نتیجې ته ورسیدل چې د جهادي سختو شرایطو او د کافي وخت د نه موندلو د امله اوس اوس د دوو پنځو اسنو اتحادونو د درسي کتابونه ټول سره پرتله کړه او هغه عناوین او مضامین چې د زمانې د مشکلاتو په نظر کې نیولو سره د اسلام او جهاد د کتنې وړ وتاکل .

نو لکه د تعلیمي نصاب مدیریت ویاړي چې د بخت او بخت ټول پیدا کړي نو څوچې د د وارو جهادي اتحادونو د درسي مضامینو مختلفه کتابونه چې د مختلفو نصابونو له خوا طبع شوي وو سره پرتله کړي او هغه مطالب او عناوین ټول وتاکل چې د اسلام مقدس دین د بنووني او روزنې له نقطه نظره د زده کړې وړ او د زده کونکو د پوهې د سطحې سره سمون لري او د جهادي شرایطو سره موافق دی انتخاب او چاپ کړي .

من الله التوفیق .

فهرست

لړی فصل : ژوندی موجودات

۱ـ انسان

د انسان د بدن جوړښت .

پوټکی .

اسکلیټ .

کوپړی ، جمجمه ،

شمزی ، د ملا تیر ،

پوښتی

د لاسو او پښو هډوکی .

عضلی .

ارادی عضلی او غیر ارادی عضلی

نوی کلی او پوښتنی

، الف ،

۲- حیوانات ، څروی ،
کورنی او وحشی حیوانات .
د حیوانانو د ساتنې اهمیت .
۳- نباتات
د نباتاتو جوړښت .
ریښه .
ساقه .
پاڼی .
ګل .
د نباتاتو اهمیت او ساتنه .
نوی کلمې .

دوهم فصل: غیر ذیروح موجودات

۱۔ مځکه ۔

۲۔ هوا ۔

۳۔ اوبه ۔

٤۔ شمسی نظام ۔

۵۔ لمر، سپوږمی اوستوری

٦۔ نوی کلمی اوپوښتنی ۔

دریم فصل حرارت اونور

۱۔ رڼا

۲۔ د رڼا منبع ۔

۳۔ د لمر اوستورو رڼا ۔

٤۔ پوښتنی ۔

څلورم فصل روغتیا

۱۔ د کولمو د مکروبی ناروغیو انتقال ۔

۲۔ د بدن پاکوالی ۔

۳۔ د کور پاکوالی ۔

۴۔ د خوراک او څښاک په وخت کی د پاکوالی رعایت کول ۔

۵۔ ملاریا ۔

۶۔ د ملاریا ژبنی ۔

۷۔ د ملاریا تداوی ۔

۸۔ نوی کلمی ۔

د افغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد

دافغانستان تعلیمی مرکز

دنصاب مدیریت

ساینس

د څلورم ټولګی لپاره

سریزه

لاندی شکلونه په ځیر سره وګوری

الف : نومونه یې واخلی ؟

ب : په کومو ځایونو کی ژوند کوی ؟

ج : حرکت کوی او که نه ؟

د : انسان څه ګټه ځنی اخلی ؟









الف ،

د تیری صفحی د هدایاتو مطابق عمل وکړی .



محترم استاد دی دیورتنی تصاویرو په باره کښی زده کړنکوته پوره معلومات
ورکړی .



استاد محترم دی زده کونکو تند مختلفو شیانو رکتی اخستلولاری و بنی .





محترم استاد دی دمضره حشراتو په باره کښی زده کوکوته معلومات ورکړی .

لا إله إلا الله محمد رسول الله

ساینس

د څلورم ټولګی لپاره

بسم الله الرحمن الرحيم

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

رَبِّ زِدۡنِیۡ عِلۡمًا

قَالَ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّمَ

حضرت رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائیلی دی.

رَضِیۡتُ

خوښ یم

بِاللّٰہِ رَبًّا

چې الله مورب دی.

وَبِالۡاِسۡلَامِ دِیۡنًا

او اسلام مو دین دی.

وَبِمُحَمَّدٍ نَّبِیًّا وَّرَسُوۡلًا

او محمد صلی اللہ علیہ وسلم مو رسول او نبی دی.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العلمين والصلوٰة والسلام علىٰ نبيه الامي الامين

يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ۝

ترجمه : خداى ج الوړى دايمان لرونكو درجې له تاسونه اوله هغوكسانو نه چې پوهه ئې ورپه برخه كړيده .

دآيه كريمې څخه استنباط كيږي چې هيڅ دول حسنه عمل څرګند اويا ښكيفيات تړوړي وجود نلري .

داسلام په مقدس دين كې دپوهې اوعلم اهميت تړوړ اندازې لوړ دى چې آسماني وحې د « اقراء باسم ربك الذى خلق » په مباركه آيت شروع شوى ده .

نوپدې اساس د ړوړې پالنې موضوع او داسلامي تفكر ړوزنه ، اقتصاد ، سياست ، عبادات ، اخلاقيات ، بشري حقوق د قرآني نبووڼې اوړوزنې په تړاو كې داسې وجيبه ده چې دتولوړوجايبولوسايلوپه درشل اوترڅ كې ترتولونه په لوړې قطار كې موقعيت لري .

مونږ د وحدانيت دلارې لاړ وهونكي دهجرت په ډيرو ناوړه اوسختو شرايطو كې